DAILY
# اراده
د افغان نړۍ مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

سال ششم شماره ۶۰
شماره مسلسل ۹۲۷
شنبه ۱۷ دلو ۱۳۸۴ هـ ش
۷ محرم الحرام ۱۴۲۷ هـ ق
6 February, 2006

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
A.M.R.C

## دولت:
# د لندن په کنفرانس کې د ژمنو شوو مرستو لپاره اړونده څانګې په ګوته کړي

دولت دلندن په کنفرانس کې دژمنه شوو مرستو د لګښت لپاره اړوندې څانګې په ګوته کړي او ویلي دي چې دغه مرستې به په سلو کې ۴۳ په بنسټیزو پروژو باندې ولګول شي. د مالیې وزیر انور الحق احدي په دې هکله په کابل کې خبریالانو ته د دولت پلان روښانه کړاو وی ویل چې دغه مرستې په سلوکې ۱۴ د پوهنې او امنیت د ښه والي لپاره په پام کې نیول شوي دي، د مالیې وزیر انور الحق احدي وویل په راتلونکو پنځو کلونو کې به د امریکا متحده ایالات، بریتانیا، نړیوال بانک د آسیا پراختیایي بانک، ایران، پاکستان، ترکیه، عربستان، دنمارک، جرمني، ناروی، استرالیا، هسپانیا، له هغو هیوادونو څخه وي چې له هیواد سره یې مرستې تر سره کړې هغه وایي دولت په پام کې لري تر څو په سلو کې ۴۳ ژمنه شوي مرستې د بریښنا د تولیدي بندونو او سرکونو د جوړوني. په سلو کې ۱۴ مرستې به دښوونې د پراختیا او د امنیت په برخه کې او له ځلورو څخه تر اتو فیصدو پورې نورې مرستې به د دولتي اداري د ښه والي په برخه کې مصرف کړی شي.

د لندن په کنفرانس کې مرسته کوونکو هیوادونو ژمنه کړې چې په راتلونکو پنځو کلنو کې لس نیم میلیارده ډالره د افغان دولت په واک کې ورکړي د ولسمشر ښاغلی حامد کرزی په وینا ۵۰ په سلو کې ژمنه شوي مرستې به بریښنا د تولیدي بندونو او سرکونو د جوړوني په سلو کې ۱۴ مرستې به دښوونې د پراختیا او د امنیت په برخه کې او له نړیوالو خیریه ټولنو له خوا د هیواد په بیا رغاوني کې مصرف کړی شي.

## په جلال اباد او لغمان کې د کارتون ضد لاریونونه

د ننګرهار او لغمان په زرګونو وګړو پرون د جلال اباد او مهترلام په بښارونو کې په پراخه لاریونونو لاس پورې کړاو د ډنمارکي اویو شمیر نورو اروپایي ورځپاڼو د چاپراکو د محاکمې غوښتنه یې کوله. لاریون کوونکو په نارو او چیغو سره دهغو ورځپاڼو دبندیدو غوښتنه کوله کوموچې په ورځپاڼو کې د کارتون په ابستلو سره د اسلام او دټولو مسلمانانو سپکاوی کړی دی لاریون کونکو د ډنمارک له دولت څخه غوښتې چې په دې اړوند د نړۍ له مسلمانانو نه رسمي بښنه وغواړي. په قندهار، خوست او پروان کې هم ورته مظاهرې شوي دي. د ډنمارک او یو شمیر نورو هیوادونو په ورځپاڼو کې د دا ډول کارتون ابستل ټول مسلمانان په غوسه کړي دي او دنړۍ په ګوټ ګوټ کې د دغه عمل غندنه کیږي. د عربي هیوادونو دخبرې رسنیو وزیرانو په قاهره کې د یوې ناستې په جوړولو سره د دغو ورځپاڼو چلند په ټینګه غندلی دی همداشان د ډنمارک او ناروې له خپلو وګړو څخه غوښتې چې له سوریې څخه ووزي همدارنګه د لبنان په پلازمینه بیروت کې د ډنمارک قنسلګرۍ ته اور اچول شوی او د لاریون کوونکو او پولیسو ترمینځ په اخ او ډب کې ۱۵ تنه له دواړو لورو څخه ټپیان شوي دي. د قفقاز د مسلمانانو دیني شورا هم دورځپاڼو کلکه غندنه کړې ده.

## دغلاپه تورنیول شوي افغانان

په سعودي عربستان کې دغلا په تور د نیول شوو افغانانو شمیر ۱۴۰ کسانو ته رسیدلی دی حج او اوقافو وزارت یو چارواکي وویل چې دغه کسان د حج د مراسمو پر مهال په غلاوو نیول شوي دي. چارواکي زیاته کړه چې دوی به په سعودي عربستان کې له محاکمې وروسته د افغانستان حکومت ته سپارل کیږي ځینې دغه کسان څو واړې په مختلفو هویت پانو له افغانستان څخه سعودي عربستان ته تللي دي.

## له افغان پاسپورت اوتذکرې څخه دبهرنیو کاراخیستل

ارمان خپلواکې ورځپاڼې پرون لیکلي چې ۹۰۰ عربانو د مجاهدینو او طالبانو پر مهال د افغانستان تابعیت ترلاسه کړی دی. دغې ورځپاڼې دغه عربان د لیبیا، سوریې، مراکش او یو شمیر نورو عربي هیوادونو ښودلي چې د یو شمیر سیاسي او امنیتي دلایلو له مخې خپلو هیوادونو ته نه شي تلای. دوی په افغاني پاسپورت سره بهرته تګ راتګ کوي او ۲۵ کورونه یې په کابل کې رانیولي او یو شمیر سوداګري شرکتونه اداره کوي. ورځپاڼه وایي دغه عربان له القاعدې سره اړیکې لري.

## له دولت سره د مخالفینو یو ځای کیدل

د سولې د ټینګښت د کمیسیون له لارې ۱۸۲ تنه مخالفین له دولت سره پخلا شول. دغه ناخوښو کسانو د طالبانو او ګلبدین حکمتیار په ګوند پورې تړاو درلود چې د یکشنبې په ورځ د سولې د ټینګښت له کمیسیون سره یو ځای شول. د دغو کسانو ډیر شمیر د کندهار، هرات، کنړ، پکتیا، کندز او ننګرهار له ولایتونو څخه وو چې په نومورو ولایتونو کې د سولې د ټینګښت د کمیسیون د سیمه ییزو دفترونه غوښتنه له دولت سره د پخلاینې په بهیر کې د ورګډیدو زمینه ورته برابره شویده په هغو مراسمو کې چې په همدې موخه په کابل کې ۴مخ

## سرمقاله

# رایدهی به کابینه باید در اولویت قرار گیرد!

دادن رای اعتماد به کابینه ازسوی پارلمان کشور یکی از اولویت های جدی برای پارلمان است.

این امر نه ازین جهت که تأخیر درین کار خیربه استخاره نیاز ندارد، ازسوی دیگر به دستور قانون اساسی کشور، به تعویق انداختن این امر بنابر دلایل وعوامل گوناگون به مصلحت کشور نیست.

درقانون اساسی درج است که ولسی جرگه در نخستین جلسهء خود باید به کابینه موجود رأی اعتماد بدهد، اما این نخستین جلسه نه تنها به دلیل به تعویق انداختن انتخابات پارلمانی، ماهها ازدستور کار خارج شد، سرانجام پارلمان هم تشکیل شد اما اکنون بعد از شش هفته وچندین جلسه هنوز هم پارلمان کشور مادرین کار توفیق نیافته است، هرچند کنفرانس لندن، زمینه تعویق این مهم را به وجود آورد. اما اکنون که چند روز از کنفرانس لندن میگذرد وآبها ازآسیابها به زیر افتاده بازهم ازجلسهء رای دهی خبری نیست.

به نظر میرسد که اختلاف عمده درین میان چگونگی وشیوهء رای دهی به اشکال انفرادی ویا دستجمعی است.

ایکاش پافشاری براصل رأی دهی دستجمعی به وزرای کابینه تأمین کنندهء منافع ومصالح ملی باشد!

به هر صورت به هر پیمانه یی که چنین بازبینی ها با دقت وامعان نظر باشد، سوال منافع ملی ومصالح همگانی کشور را میتواند متضمن باشد.

با اینهمه مردم انتظار دارند که نماینده گان شان درخانهء ملت، دربرآورده ساختن آرزوهای شان که همانا غور وتعمق لازم برقضایا ومسایل کشور است، بدور از مصلحت های عمل کنند که همواره درچنین موارد، مشکل آفریده ودست وپاگیر میتواند باشد!

# ادامه اعتراضات مسلمانان درکشورهای اسلامی

اتحادیه اروپا با انتشار اعلامیه درسفارتخانه های کشور های اروپایی درکشورهای مسلمان نشین را محکوم کرد ه است درچند روز گذشته به دنبال انتشار تصاویر از پیغمبر اسلام درمطبوعات چاپی در اروپا مسلمانان دربیشتر کشورهای اسلامی دست به تظاهرات زده وترسیم پیغمبر اسلام درکاریکاتورها را اهانت به دین اسلام خواندند. تظاهرکننده گان خشمگین درچند روز گذشته ساختمان چندین سفارت خانه اروپائی درکشور های اسلامی را به آتش کشیدند اتحادیه اروپا که درحال حاضر ریاست آنرا اتریش بعهده دارد روز گذشته با انتشار اعلامیه گفت: اجرای چنین حملات قطعاً غیر قابل پذیرش است. ص ۴

## دستگیری سارقین درحوزه هفدهم

سه تن مسلح به اتهام سرقت ازسوی پولیس حوزه هفدهم امنیتی شهر کابل درساحه بی بی مهرو دستگیر شدند. محمد فاروق حساس آمر این حوزه میگوید که ازنزد این افراد یک میل تفنگچه ویک موتر بدست آمده است. سمونوال حساس میگوید که هنگام دستگیری آنان زدوخورد میان پولیس واین سه نفر درگرفت. ص۴

## کشته شدن شش پولیس درکندهار

تازه ترین موارد خشونت در ای در ولایت کندهار، منجر به انفجار بمب در کنار جاده مرگ شش مرد پولیس و جراحت دست کم پنج پولیس دیگر شده است. ص۴

## خودسوزی یک ایرانی در مزارشریف

یک شهروند ایران پس از آنکه درخواست پناهندگی اش ازسوی مقامات سازمان ملل متحد درشهر مزار شریف پذیرفته نشد خودرا آتش زد. دوکتوران میگویند که ۹۵ درصد بدن وی سوخته است این شهروند ایرانی که اسماعیل زاریی نام دارد جوان ودرحدود ۳۵ سال به نظر میرسد. ص۴

## دیوپولیس تښتول

ناپیژندل شویو کسانو د غزني ولایت د ګیلان له ولسوالۍ څخه یو افغان پولیس تښتولی دي. امنیتي چارواکي وایي چې دغه پولیس د شپې مهال له خپل کور څخه د یو ملکي کس سره یو ځای تښتول شوی خو ملکي کس له لږ ځنډ وروسته بیرته پریښودل شوی دی. یوې امنیتي سرچینې چې د نوم د اخیستلو یې ډډه کړې ویلي د پینې په ترڅ کې د ولس شکمن کسان نیولي دي.

# د اقتصادي پياورتيا لپاره په کومه لاره روان شو؟

سياستوونه او تولنيوه ډاکتر محمدظاهر حاذق - جرمنی

**دمعاشونو جګول انفلاسيون زياته وي ځکه چې ورځ معاشونه يوفيصد زياتيږي په مقابل کې يې سبا دشيانوقيمتونه دوچنده او څوچنده زياتيږي. پدې ډول هم مامورينوته اوهم ولس ته لوی تاوان رسيږي**

دولت اوس له اقتصادي ستونزو سره لاس ګريوان دی کومی اقتصادی پروژی چې تر اوسه پورې د دولت له خوا په لوی بری سره تر سره شوي دي هغه يوه د نوي افغانی رواجول اوبله هم دکابل - کندهار دسړک جوړول بللی شو. افغانی که څه هم تر اوسه پورې تر لسو افغانيو نه زيات خپل ارزښت د ډالر په مقابل کې دلاسه نه دی ور کړېدي، خويوه ډېره ګټوره پروژه وه چې هم يې په راکړه ورکړه کې ډېرې آسانتياوي را وستلي اوهم يې هر کال ولس ته د سلګونو ملیونو ډالرو په ارزښت ګټه رسيږي ، په تېره بيا په اوسنی وخت کې چې د واريداتو کچه د صادراتو په پرتله ډېره لوړه ده، په بل عبارت کوم مالونه چې هيواد ته راځي هغه ارزانه تمامیږي ځو لنډ وړاندیزونه:

۱ - د دي کبله زما وړاندیز دولت ته دادی چې د افغانی د ارزښت د جګېدو لپاره د ټولو فني او رواني میتودونو او وسايلو نه کار واخلي ځنګه چې ځرګنده ده، داسعارو ارزښت تر ۲۰ فیصدو پورې په عینې شرايطو پورې ترلې دی او تر ۸۰ فیصدو پورې په رواني تاثيراتو او میتودونو پورې ترلی دی. که چيرې دولت له داسې يو میکانيزم نه کار واخلي چې دمرستوکوونکو پيسونه چې ډېرې يې دقوي اسعارو په شکل ور کول کيږي لکه ډالر، يورو او سترلنګ پونډ، چې دهغه نه د افغانی د ملاتړ (پشتواني) لپاره هم کار واخستل شي، ځکه پيسه ، پيسه ده چې د هرې لارې نه هيواد ته راځي، بايد د افغانی پر قوي کېدو باندې مثبت تاثيرولري. د افغانی قوي کېدل په تېره بيا په اوس وخت کې د خلکودژوند د سطحي په لوړيدوباندې او هم دهيواد پر اقتصادي وده باندې مثبت تاثير لرلي شي اوهم ترهغه نه ګټوره ده چې دخلکو د ژوند سطحه په مصنوعي ډول سره يانې د معاشونو په زياتيدو سره پورته بيول کيږي.

دمعاشونو جګول انفلاسيون زياته وي ، ځکه که چيرې نن ورځ معاشونه يوفيصد زياتيږي، په مقابل کې يې سبا دشيانوقيمتونه دوچنده او څوچنده زياتيږي. پدې ډول هم مامورينوته اوهم ولس ته لوی تاوان رسيږي، ځکه روغتيا ته د هغوي ضرر ثابت دي او په اسلام کې هم ددي کبله منع شويدي. خوزه د صناعتي هيوادونو د چارواکو منطق ته نه پوهيږم چې ځينو نشيي موادو لکه شرابو او سګريټو ته اجازه ورکوي چې ضرر يې دروغتيا لپاره د چرسو او اپينوپه پر تله ډېر زيات دی

يانې د ژوند دسطحي دپورته کېدو پرځای هغه را کښته کيږي. د طالبانو او تر هغه دمخه د واکداری وختونه يې ښکاره بيلګې دي چې افغانی خپل ارزښت بيخي دلاسه ورکړي و اوپه آخرو ورځوکې اتيازره افغانيو يوازې يو امريکايي ډالرقيمت در لودی.

۲ - د خلکودژوند د سطحي د لوړيدو لپاره بايد داسې تدابير ونيول شي چې وکولای شي د عرضي او تقاضا توازن برابر او خلکوته د کار امکانات پيدا کړي اوهم د ضروري قوانينود ژر جوړولو دلارې نه دخلکو په ورځني کارونو، راکړه ورکړ کې آسانتيا، روانتيا اوچټکوالي راولي (په تېرو ځلورو کلونو کې بايد ټول ضروري قوانين جوړ او يا اقلاً مسوده شوي واي، خوداکار هم د بده مرغه تر سره نشو. اوس چې پارلمان جوړشو، د هر قانون په جوړيدو او تېريدو باندې ډېر وخت ضايع کيږي). بيله دضروري قوانينو دموجوديت نه کارونه سمه وده نشي کولای او د ډېرو خنډونوسره مخامخ کيږي.

۳ - په هيواد کې اوس په کافي اندازه پانګه شته چې ډېره يې د نشيي موادو د قاچاقبرانو او توپکسالارانو په لاس کېده، هغه مړه سرمايه ده ، دهغې نه دسود، سلم او په احتکاري ډول د املاکو په برخه کې لکه ځمکه، باغ، دوکانو او تعميرونو کې کار اخيستل کيږي اود انفلاسون دزياتېدو سبب ګرځيدلي ده اوخلک يې د ډېرو ستونزو سره مخامخ کړيدي. ديوقانون په چوکات کې بايد ددې کارمخنوي وشي او پرځای يې ملي تجارانو ته سمه لارښودنه وشي او وهڅول شي چې شرکتونه جوړ کړي او وکولای شي چې د افغانانو دارتيا وړ

**د صناعتي هيوادونو د چارواکو منطق ته نه پوهيږم چې ځينو نشيي موادو لکه شرابو او سګريټو ته اجازه ورکوي چې ضرر يې دروغتيا لپاره د چرسو او اپينوپه پر تله ډېر زيات دی**

کارخاني پکار واچوي. ددې لارې نه ډېرو افغانانو ته کار پيداکيږي او کرار کرار دخوراکې او مصرفي شيانو د واريدیدو حجم کميږي، د داخلي خامو مواد و دصادريدو پرځای بايد دهغوي نه بشپړ شوي شيان د داخلي او خارجي مارکيټونو لپاره جوړشي.

۴ - هيواد ځنګه چې يو زراعتي هيواد دی، کرنی او د اوبو ذخيرو ته بايد ډېره زياته پاملرنه وشي. بزګرانو ته اصلاحي تخمونه اوپه ښه شرايطو قرضي ورکړل شي چې خپلې ارتياوي پوره کړي او دسود خورو د کړيو نه خلاص شي او د بديلو يا الترناتيپو شيانو په رواجولو کې د صناعتي هيوادونو په مرسته سره ملاتړ او لارښودنه وشي چې په داخلي او خارجي مارکيټونوکې ښه قيمت ولري، لکه پنبه ديخواپشان، زاعفران، توره زيره، ګلان د اروپايي مارکيټونو لپاره او داسي نور ډېرشيان.

۵ - نشيي مواد لکه چرس او اپين افغانانوته د سياشي نظره يولوي درد سر او د اقتصادي ودي په مخکې يو لوی خنډ ګرځېدلي دي. حکومت اوهم نړيوال تر اوسه پوري پدي لاره کې پاته راغلي دي چې دلويو داخلي او خارجي قاچاقبرانو مخه ونيشي، ټول زور يې پر بزګرانودی، کوم چې د اوبو د کموالي ، قرضداريو، سود او سلم له کبله بله چاره نه پرکمپنيو وپلورل شي، دريم دولت بايد دصناعتي هيوادونو د چارواکو او د دوا جوړولو د کمپنيو مالکانو سره په تفاهم اود يو قرار داد له مخې د هغوئ د ضرورت په اندازه چرس او اپينو ور کړي اوکه د کمپنيو د ضرورت نه زياتيږي، هغه دي وسوځول شي او مصرف دي و دهقانانو ته صناعتي هيوادو نه ور کړي. دامصرف نسبت ونورو امنيتي تدابيرو اود هغه ضرر ته ډېر کم دي او که کمپني په سم قيمت هغه را نيشي شايد نورو مصارفو ته ضرورت هم پاته نسي. دا حقيقت و ډېرو ته معلوم دي چې چرس او اپين د واړه د مسکينو دوا وو په جوړيدو کې دوي ډېري مهمي مادي دي، په تېره بياد چرسو بوټي د پمبي د بوټي غوندي يو ډېر صنعتي بوټي هم دی چې ډول، ډول ټکران ځني جوړيداي شي، او دفضله موادو نه يي طبعي سره جوړيداي شي او يا د سونګ له موادو کار ځني اخستل کېداي شي. دچرسو بوټي په صنعت کې اصلاً د اپينو ډېر ښه بديل کېداى هم شي. د اروپايي ټولنې ځني هيوادونه د چرسود بوټي د کښت لپاره خپلو دهقانانو ته سبسټي هم ور کوي. ځلورم - د غير قانوني نشيي موادو دتوليد اومصرف سره اوپه تېره بيا د داخلي او خارجي قاچاقبرانو سره په مو ثره ډول مبارزه وشي لکه چې پورته د امنيت په اړه توضحات ور کړل شول. ۶ - د اقتصادي چټکې ودي، دهيواد دصناعتي کېدو او د ژوند د اسانتياوو لپاره و انرژي ته ډېره ارتيا ده، د نفتو، غازو او د ډبرو د سکرو ذخيري په افغانستان کې دومره ندي چې د ډېري مودي لپاره کفايت وکړي، اوهمداسي د ا ذخيري د نړۍ په سطحه هم په درو ، ځلورو

**د صناعتي هيوادونو د چارواکو منطق ته نه پوهيږم چې ځينو نشيي موادو لکه شرابو او سګريټو ته اجازه ورکوي چې ضرر يې دروغتيا لپاره د چرسو او اپينوپه پر تله ډېر زيات دی**

لسيزو کې مخ پر خلاصيدو دي اوقيمتونه يې هم ورځ په ورځ لوړيږي، د افغانو زور نه په رسيږي. معقوله دحل لاره يې اوبد مهال تدابير دي لکه د اوبو، لمر، باد اود طبعي غاز انرژي چې د فضله موادو نه لاس ته راځي. دهيواد رودونه او ويالي اکثره مساعدي دي چې ورځنې برق تر لاسه سي. اوس ډېر کوچني تورښينونه هم شته چې د کوچنيو ويالو د او بو نه هم برق تر لاسه کېداي شي چې دځو کورونو او يايو کلي دبرق ارتيا ور پوره کړي، زما دمعلوماتو له مخي د لغمان په ولايت او ځينو نورو سيمو کې خلک دهغوي نه څه نا څه کار اخلي. د فني لار ښودنو او پوره پاملرني دلاري دا تورښينونه ارزانه تر لاسه کېداي شي چې ډېر افغانان ورځني ګټه تر لاسه کړي. د اوبو ذخيري بايد داسې جوړي شي چې هم د برق کار ور کړي اوهم پخپله خان پاک کړل شي. د لمر د انرژي لپاره د افغانستان شرايط ډېر مساعد ي چې هم برق تولېد کړي اوهم دپخلي، ګرمو اوبو او مرکزګرمی کار ځني واخستل شي. دبرق لپاره د لمر ښينبو يا کولکتورونوته ضرورت دی، ځني نمونې يې افغانانو د دوبي نه را وړي دي. په هغوي باندې هغه وخت د افغانانو وسه رسيږي چې هغه په هيواد کې تو ليد کړل شي او يا اقلاً مونتاژ يې په افغانستان کې وشي. دا کار بايد يا دولت پر غاړه واخلي او يا څو شرکتونه هغه ته وهڅول شي او يا په دواړو داکارتر سره کړي چې په لويه پيمانه د لمر ښينبي جوړې کړي اوپر خلکوباندې يې په مناسب قيمت او قست خرڅې کړي. د پخلي د ديګدانو او ګرمو اوبو کار ډېر اسانه دی.. وروشته د دو درو ورځو د کورس نه عادي نجاران او فليزکاران هم هغه جوړه ولاړ شي. يوازې ددې لارې نه ډېرو خلکو ته کار پيدا کيږي، د پخلي کار ډېر اسانه کيږي، دسونګ دموادو پيشي سړي ته سپما کيږي او دچاپريال او هوا په پاکې ډېره مرشته کوي. لنډه داچې د الترناتيپ انرژي ګټې ډېرې دي ، هغه د ژوندپه ډېرو کارونو او کرنه کې اسانتياوي راولي اوهمداسي د چاپريال د پاره ډېره ګټوره تمامیږي. خبره دا ده چې مسئولو چارواکو ولي هغې ته تر اوسه پورې پوره پاملرنه نده کړې او يا يې نه کوي ؟؟؟ دولت او مطبوعات بايد ددي انرژي په ګټو خلک خبر کړي او سر د اوس نه ورته ډېر تبليغات ور کړي. دلمر د انرژي تخنيک په جاپان او المان کې ډېر پر مخ تللي دي او په چين کې هم اوس ورته پاملرنه شويده بايد دګډ کار لپاره ور سره خبري وشي. ۷ نړيوالي مرستې بايد په سالم ډول وکارل شي، ددي کار لپاره بايد دولت اول پخپل خان کې دکار ظرفيت، ظليت او اعتبار پيداکړي اود مرشته کونکو هيوادونه سره په تفاهم لنډ مهاله او اوږد مهاله اساسي اقتصادي پلانونه جوړ کړي. د انجوګانو سره دښمني کومه ګټه نه رسوي، تاوان يې زيات دي، دمرشته کونکوهيوادونو د پاليسي نه د بې خبرۍ او دملي ګټو سره د بې پروايي مانا لري. ۸ - د کارونو د ډېرې چټکتيا، اسانتيا او سپما لپاره ډېره اړينه ده چې په دولتي دايروکې کارونه کمپيوټري شي، کوم چې ډېر يې تر اوسه پورې په لاس او زاړه سسټم سره تر سره کيږي او ډېر وخت ضايع کوي. د بيلګې په توګه که يو سړي د يو کور يادوکان د سودا کوي اويا د کوم دولتي مقام سره کومه معامله کوي، بايد پر شلو دفترونو وګرځي او دهغوي نه سند تر لاسه کړي چې پر دي ملک نور ځوک دعوی نلري او يا داسړي قرضداره ندي اويا کوم جرم نلري. دداسي يوعادي کار د خلاصيدو لپاره بايد سړي اوس هفتي او مياشتي ضايع کړي او وروشته له ډېر رشوت ورکولو نه هغه سرته رسيږي، که چيرې ددې کارو لپاره د ولايتونواو هيواد په سطحه يو کمپيوټري مرکز يا دفتر جوړ شي. نوييا دا شي معلومات په دو درو دقيقو کې تر لاسه کېداي شي، دخلکو وخت به ډېر نه ضايع کيږي اوهم به پداسي کارونو کې د رشوت اخستلو امکانات ډېر کم شي، خو د رشوت سره د مبارزي موثري لاري نوري دي، که ځوک يې وغواړي. ددې ګټو اواسانتياوو له ځنګه کمپيوټر يا کمپيوټري پروګرامونه نوري هم ډيري ګټې لري.

# مبارزه معقول به خاطر ریشه کن سازی فساد اداری

ضیاء وزیری

فساد اداری یکی از پرابلم های جدی درکار یک تعداد ادارات بوده وباعث آن میشود تا قانونیت واجرااات سالم درمعرض خطر قرارگیرد.

اصطلاح فساد یا "کوراپشن" درسیستم اداری کشورهای پیشرفته به شیوه های مورد بحث قرار میگیرد که نحوه خاص خود را داشته چشمگیر نمیباشد، اما دروطن عزیز ما دارد به یک فرهنگ تبدیل شده است واز رئیس جمهور گرفته تامردم عادی ازآن شکایت دارند.

دریک تعداد ادارات که امور معاملاتی مربوط به آنهاست یا اجرااتیکه درارتباط به طی مراحل ملکیت های منقول وغیره منقول ویا دعاوی، حقوق ووجایب، حقوقی افراد درمقابل اموال ودیگر زمینه ها، همیشه شکایت ها از رشوه گیری وسوء استفاده ها بوده، یا اینکه ازطریق رسانه ها هموطنان ما از فساد های بزرگ شکایت وعلت عمده عقب مانی کشور را که حتی گاهی عدالت هم درمعرض خطر قرار گرفته ناشی ازفساد اداری میدانند.

واما رشوه خواران وطنی به دسته جات مختلف طبقه بندی وتقسیم شده میتوانند که عمدتاً دوطبقه یعنی( رشوه خواران حرفوی( پروفیشنل) ورشوه خواران آماتور میباشند. ۱- رشوه خواران آماتور: این طبقه رشوه خواران یک تعداد کارمندانی اند که نظر به کمی معاش، گاهگاهی با ترس ولرز دست به رشوه خواری زده به اصطلاح جاغور شان خورد میباشد که به مرور زمان عادی شده وبه اثر تکرار، خطرناک شده میروند.

درصورتیکه درارتباط به معاش، بیمه صحی، تامین سرپناه به شرایط سهل وسایر تامیناتی که یک خانواده به آن نیازدارد توجه به این کارمندان ازطرف دولت صورت گیرد، بزودی اصلاح شده هرچند به خاطر حفظ آبروی شان که باشد رشوه خواری وکارشکنی وسوء استفاده از وظیفه را ترک میکنند، یعنی قابل تجدید تربیت میباشند، واگر گرسنه بمانند مانند گرگ درکمین نشسته قابو میدهند تا شکاری بیابند.

۲-رشوه خواران حرفوی یا پروفشنل: این رشوه خواران به کته گوری های مختلف تقسیم شده عامل اساسی برهم زنی قانون، ایجاد کاغذ پرانی وسرگردانی مردم بوده بابی حیایی وبی شرمی وبا کمال جرئت عادت به اخذ رشوه دارند ووقتی هموطنان ما یک معامله انجام میدهند علاوه ازقیمت اصلی جنس، یا ارزش کار، میگویند اینقدر پول دیگر مصرف دارد که همین پولرا درقدمه های مختلفی که طی مراحل کار به آنها مربوط است میدهند تا معامله به انجام رسد. رشوه خواران پروفشنل جاغور بزرگ داشته به پول کم، توجهی ندارند.

مراجعین میدانند اگر رشوه ندهند باید ماه ها به ادارات مختلف سرگردان، باشند چه بسا که به اثر مشکل تراشی ها کارشان هم اجرانه شود وازطرف دیگر چون رشوه گیرنده ها درحلقات وسلسله های مراتب قرار دارند نجات مراجعین ازچنگ شان امکان ناپذیر است.

شکایات ازرشوه خواران میکنند، اما ازترس آنکه دردام دیگری نیفتند که بازهم حلقه وحشتناکی خواهد بود، چونکه رابطه کاری با رشوه خواران دارند ومیدانند که مرض رشوه خوار درد شانرا دوا نمیکند واین مرض خیلی گسترده است اکثرا با وجود شکایت، ازمرض آنان ابا میورزند.

سوء استفاده ها عنصر دیگریست که شامل فسادادارای میباشد، طور مثال درعقد قرار دادهای عمرانی وتعمیرات به پیمانه زیادی متصور بوده میتواند یا درخریداری های بزرگ سوء استفاده کننده ها به زودی صاحب خانه وموتر میشوند همچنان اعمال مافیایی درتشدید فساد سهم قابل ملاحظه یی دارد.

درمجموع توجه به حال کارمندان ازطریق تادیه معاش مناسب وسایر تامینات، ایجاد لایحه وظایف وتشکیل ادارات نظر به ضرورت نه به شکل متورم، پراگنده وغیر ضروری، کنترول جدی وتعیین مجازات سنگین برای رشوه خواران و سوء استفاده کننده گان وسپردن کار به اهل کار به اساس دانش وتقوا میتواند مبارزه معقولی علیه این پدیده منفی باشد.

# درباره‌ء بازسازی

رحمت الله رسا

افغانستان در درازنای تاریخ کشورآزاده وسربلند بوده وازتاریخ پنج هزار ساله برخوردار ودرشاهراه تمدنهای بزرگ قرار داشته وخود از فرهنگ وتمدن نیرومند برخوردار است.

اما در دو دهه‌ء اخیر به اثر بحران سیاسی اجتماعی صدمات شدید مادی ومعنوی را دیده وقسمت بزرگی از مملکت تبدیل به ویرانه شده است، که به بازسازی نیاز اشد دارد.

بازسازی درکل به دومعنی است یکی بازسازی مادی که عبارت از اعمار تعمیرات، سرک، مکتب، شفاخانه وغیره میباشد ودو دیگر بازسازی معنوی که شامل بازسازی فرهنگی، تعلیم وتربیت، معارف وکلتور وغیره میباشد.

برای بازسازی بخش ها فرهنگی همه عرصه ها مهم بوده ولی کار معارف حرف اول را میزند، زیرا معارف به معنای تربیت وساختن انسان های جامعه ما است.

فقط انسان وطن است که میتواند، میهن ویران ما ازلحاظ مادی ومعنوی بسازد. وتعلیم وتربیت است که کارساز است.

ما با داشتن معارف باز میتوانیم انسانهای خوب آینده را با فکر باز تربیت نماییم، انسان مفید وآگاه وسازنده است که خشونت را نمیپذیرد با همدلی، برادری وصلح خواهی، آگاهانه برای آوردن یک جامعه با عزت وآبرومند (جامعه مدنی) کار میکند.

درجامعه مدنی است که صلح ودموکراسی کارایی دارد.

واما باید دانست که معارف خوب وباز آن است که درقبال تربیت انسانهای خوب انسانهای مسلمان ومومن وآزاده تربیت نماید فرهنگ عالی مقام اسلام آگاه ترین، بیدارترین وسازنده ترین ومفیدترین فرهنگ های جهانی است. با طرح ریزی معارف نوین در کشور میتوان یک فرهنگ ملی و اسلامی را برای تربیت اولاد وطن وبازسازی بهتر وطن درنظر داشت.

دربازسازی معنوی وفرهنگی وروحانی است که میتوان با تربیت انسانهای مفید یک اقتصاد سالم را طرح ریزی کرد وسطح تولید را بالا برد. درجریان بازسازی معنوی وفرهنگی است که میتوان اقتصاد، سیاست، تولید ومادہ ومعنی و فرهنگ را درنظر داشت.

درقبال معنویت نمیتوان مادیات را فراموش کرد زیرا پیامبر بزرگوار صلح ودوستی رسول مقبول (ص) فرموده اند که: ثروت خیر است به شرطی که در راه خیر وثواب وخوب" مصرف شود یعنی ثروت در راه معروف به کار گرفته شود نه منکر.

بازسازی فرهنگی ومعنوی آدمی را برای تولید بهتر، کاربهتر وآگاهی بهتر وساختن شرایط مادی ومعنوی جامعه آماده میکند زنده گی انسانی را فکر (اندیشه)، تجربه، عمل و کردار آدمی ساز وفقط با فکرو عمل است که میتوان جامعه را ساخت.

# د ځان سوځولو د پیښو مخنیوی څنګه کولای شو؟

نادر

د وروسته پاتې توڼنو له ځانګړتیاوو څخه یوه داوي چې هم یې تعلیمي سویه کښته وي او هم منفي دودونو رانیولي وي په داسې توڼنو کې د اقتصاد کمزورې خامخا ورسره شته والی لري او چې دا دری واړه سره یو ځای شي د انسان په روانی حالاتو باندې د ناوړو نتیجو لامڼلونه ورزیاتوي. همدا وجه ده چې زمونږ توڼنه اوس مهال په اقتصادي ستونزو، بې کاری، ناوړه دودونو او روانی ناروغیو کې راګیره شوی ده.

د اقتصاد ستونزو او بې کاری د حل لپاره که چیرې د دولت مسوولین ملي احساس او پوره زړه سوی ولري کولای شي چې د علمي پروګرامونو پواسطه، یې مخه ونیسي چې تر اوسه زمونږ د هیواد لپاره د نومورو ستونزو په اوارولو کې زیات چانسونه موجود دی خو ډیره سخته د دودیزو ستونزو اوارول دی. زمونږ په هیواد کې د دغو ناوړو دودونو په جال کې ښځې نښتی دی که چیرې د هیواد په سطحه ورته نظر واچوو لیدل کیږي چې پدې برخه کې زیات ګوزار لاندې ښځې نیول شوی دی او هغه هم زیاتی هغه ښځې چې له سواد څخه بې برخې دی او په کلیوالو سیمو کې ژوند کوي ښځې د ژوندانه او کورني ژوند ترخه حالات او چلدونه نشي زغملي له همدې امله هر څه په زړه تیروي جسمي او روحي راز راز ناروغیو سره لاس ګریوان کیږي.

چې مونږ داسې حالات په ټول هیواد کې او په تیره بیا په هرات ولایت کې لیدلی شو چې ښځې له ډیر مجبوری څخه دی ته حاضری شي چې خپل ګران خان ته هم اور واچوي. سږ کال د خان سوځولو پیښې زیاتی وي د مدیکا موندیال موسسې د څیړنو له مخې هر کال په هیواد کې د بیلا بیلو لاملونو له امله ۵۰۰ د خان سوځولو پیښې لږ تر لږ رامنځته کیږي چې په دې کې زیاتی هغه پیښې دی چې له ښځو سره د ناوړه چلند له مخې منځته راځي.

په دې پیښو کی چې کومو ښځې رانښلي لامونله یې دا بللي شو چې ځینی ښځې یا کوچنی انجونی په بدو کې ورکول کیږي ځینې د اقتصادي ستونزو له امله پیسه دارو سپین ږیرو ته ورکول کیږي او ځینې په کورونو کې د ځینو خوښیانو اندورګانو تر فشار لاندې وي اوپه نتیجه کې ښځه دیته مجبوره شي چې یا له کوره فرار ومني یا ناروغیو ته ځان وسپاري او یا خو د روحي فشار لاندې ځان ته اور واچوي یا زهري مواد تر ستونې تیر کړي. د نوي اساسي قانون له مخې باید جلی له ۱۶ کالو څخه وروسته او هلک له ۱۸ کالو څخه وروسته واده وکړي خو زمونږ په هیواد کې لادی عمر ته څوک نه ګوري. د څیړنو له مخې ثابته شوی ده چې په سلو ۶۰ ودونه په داسې ښه کیږي چې د انجونو عمر له ۱۶ کلنی څخه کم وي همدا وجه ده چې داسې ناوړه پیښې زیاتی را پیدا کیږي.

د ځان سوځولو او په زهري موادو ځان وژنی د کورني ناوړه چاپیریال له امله خود هیواد په ټولو سیمو کې موجود دی چې ډیرې پیښې یې رسمي بڼه هم نه پیدا کوي خو باید ووایو یوازې د سږ کال په اوږدو کې تر ۴۰۰ زیاتی د سوځولو پښې په هرات کې ثبت شوی دی چې په سلو کې ۶۰ بی وژل شوی دی چې زیاتې پیښې په دوی کې د جبری ودونو له امله رامنځته شوی دی، خو که چیرې دغه ناوړه حالت همداسې پریښودل شي نوره هم دغه شمیره زیاتیږي تر هرڅه وړاندې باید ددغو پیښو مخنیوی له درو لارو څخه وشي

۱. تر هرڅه وړاندې کورنۍ باید د خپلو اولادونو په برخه کې خپل مسوولیت احساس کړي او خپل اولادونه پدې ډول د مرګ خولی ته برابر نه کړي.

۲. دیني علما هم پدې برخه کې د زیاتو تبلیغاتو د کولو لپاره زیات مسوولیت لري چې باید خپل مقتدیان یې پرګناه وپوهوي چې د خپلو اولادونو په باره کې خپل مسوولیت ته متوجی شي.

او دریم دا چې دولت پدې برخه کې په قانوني ډول زیات فشار راوړي د بدو په برخه کې باید د حکومتي فشار تر څنګ هغه څوک چې د مشرانو او جرګه مارانو په توګه د دښمنیو په اوارولو کې کار کوي باید دکوچنیو انجونو د ورکړې لپاره پریکړه ونه کړي او خوانی انجونی هم له موافقې پرته ددې لاسې لاندې کار نه شي څو وکړای شو په هیواد کې د ښځو دداسې تریخ برخلیک مخه ونیسو او ښځې وکړای شي خپل سوکاله ژوند په خوښی سره تیر کړي.

# چرا برنامه "ستارهء افغان" دست به استعداد کشی زده است؟

جوانان کشور باید از هر گونه امکانات و فرصتها برای تربیه، تشویق به منظور رشد استعدادهای شان امکان و محل پیدا کنند، اما با دریغ و تأسف برخی از ادارات و نهادها و شبکه های تلویزیونی، جوانان را قربانی اهداف تجارتی و احساسات شخصی شان میسازند.

برنامه انتخاب ستاره افغان که از چند ماه به اینسو برای گزینش بهترین آواز خوان به راه افتاده، نه تنها در جهت رشد و تربیه و کشف استعدادهای جوانان نو رسیدهء ما سیر نمیکند بلکه در کشتن استعداد های جوانان و به بازی گرفتن آنها و فراهم آوری و انبار شدن (اس و مس ) خود شان مشغولند.

فرصت ها و امکانات موجود فراهم شده در کشور هم از نظر مادی وهم ذهنی، باید جوانان ما را نه به مثابهء بازیچه و وسیله مورد بهره برداری قرار دهد، بلکه آنها را در ایجاد فرصتها یاری و مدد نماید، وقتی می بینیم برخی تنوع آفرینی و برنامه سازی را به تمسخر می گیرند و در جنب کار خود شانرا میکنند، جز اینکه تأسفی را نثار شان کنیم کار دیگری نمیشود کرد.

باید نخست دانست که هر رسانه گروهی رسالت، مسوولیت، وظایف و مکلفیت های دارد، در غیر آن هر برنامه و پروگرام تف سر بالایی خواهد بود که به سراغ خود ما خواهد آمد.

معلوم نیست در ستارهء افغان منظور برنامه سازان آن غیر از تحقیر و سبک ساختن جوانان وبه مسخره کشیدن احساسات ظریف و لطیف شان و ملعبه ساختن روان جوانان و بلند بردن معیار ومقیاس (اس و مس ) دیگر چه چیزی خواهد بود، آیا گرداننده چقدر حق دارد که بیاید و نا شیانه با دلقک بازی ادای گردانندگی را در بیاورد و در برابر صد مهمان در سالون کنسرت و صدها هزار بیننده تلویزیون استعداد های نسل جوانان را به باد مسخره بگیرد!

اگر منظور تفکیک و تشخصیص استعدادهای نوپاوشگوفان است، این راه برنامه ستارهء افغان به ترکستان است مردم از ابراز نظر های ضد و نقیض و سطحی عاری از فهم و تخصص که درین برنامه ها از آغاز تا حالا ابراز شده، میگذرند، اما این حق را به گردانندگان ناشی ستارهء افغان نمیدهند که استعداد های جوان کشور را در محضر عام و از پرده یک رسانه به صورت غیر مسوولانه طرد و تحقیر کنند.

اگر بپذیریم که آن داوریها، عادلانه دقیق و میعاری باشند، کم از کم مستعد ترین ها را برگزینند و دیگران را با احساسات شخصی و با ادا های بچه گانه و ناشیانه، انگشت نما نسازید، و نفرت بینندگان به سوی خویش برمیانگیزید، باید گفت، این دومین گرداننده این رسانه است که با اداها و اطوار خنده آور و حقارت بار خویش نفرت همگان را برای مطبوعات- به ارمغان میآورد، جوانان ما باید اجازه ندهند که استعدادهای شان و شخصیت و روان لطیف شان بازیچه و معلبه به اصطلاح ( ژورنالیست!) نماهای عصر دموکراسی و آزادی مطبوعات شود.

بینندگان این برنامهء مصرفی! شاهد بودند که چند شب پیش دو جوان با چهره های آشفته و دهان خشک شده و چشمان اشک آلود، بعد از دقایق ممتدی که در روی ستیژ در برابر حاضران مسخره شدند، رخصت شدند. همچنان چند هفته پیش یک جوان، جرأت و جسارت به خرج داد و به دلقک بازیها و بهره برداریهای این برنامه استعدادکش، در همان روی ستیژ پاسخ مساعد داد.

**به امید اصلاح این برنامه و آماده نمودن پروگرام های بهتر برای جوانان !**

## له دولت سره...

د سولې د ټینګښت د کمیسیون مشر حضرت صبغت الله مجددی په مشرۍ جوړ شوی و د سولې په بهیر کې ورګډ شوو کسانو هیله خرګنده کړه چې نور به د هیواد په بیا رغاونه او سیاسي بهیر کې پوره ونډه اخلي او هڅه به وکړي چې نور ناخوښه ملګري هم دغه بهیر ته راولي.

د یادونې وړ ده چې د سولې د ټینګښت د کمیسیون له لارې د روان کال په ترڅ کې له زرو څخه ډیر ناخوښه کسان او د دولت مخالفین له دولت سره یوځای شوي دي.

## دستگیری سارقین...

درنتیجه یکی ازآنان زخمی ودو تن شان دستگیر شدند به گفته آقای حساس این سه نفر ازچندی به این سو تحت تعقیب پولیس بودند وبه چند مورد سرقت مسلحانه متهم هستند

آقای حساس می افزاید که دریک حادثه دیگر یک کودک ۱۲ ساله به جرم سرقت زیورات خانه خودش با همکاری نوجوان ۱۵ ساله دیگر ازسوی پولیس این حوزه دستگیر شده اند.

## خودسوزی یک ایرانی...

وی درمقابل دفتر نماینده گی سازمان ملل متحد یوناما درمزار شریف حضور یافته وخواهان پناهندگی شده بود وی از شرایط سرکوب واختناق ازجمهوری اسلامی ایران فرار کرده ومیخواسته ازطریق افغانستان به کشور های اروپایی پناهنده شود دوکتوزان مؤظف میگویند ۹۵ درصد بدن این مرد کاملاً سوخته است ووی درحالت کوما بسر میبرد.

## ادامه اعتراضات...

وبراساس یک خبر دیگر پولیس درلبنان دیروز بمنظور پراگنده ساختن تظاهرکننده گان خشمگین درخارج از ساختمان سفارت دنمارک دربیروت ازگاز اشک آور، تیراندازی های هوایی و آب استفاده کرده اند. این گروه از مسلمانان نیز دراعتراض به ترسیم کاریکاتورهای پیغمبر اسلام درمطبوعات اروپایی دست به تظاهرات زدند. تظاهر کننده گان درجریان راهپیمایی ها به ساختمان یک کلیسا درمنطقه عیسویان دربیروت نیز سنگ پرتاب کردند وساختمان سفارت دنمارک در بیروت را به آتش کشیدند گزارش شده است دست کم ۱۸ تن درجریان این خشونت ها دربیروت مجروح شدند. درهمین حال درتازه ترین اقدام حکومت دنمارک دیروز ازشهروندان خود خواسته است لبنان را بزودی ترک گویند.

## د ایران پر ضد پریکړه لیک وښل شو




د اتومي انرژۍ د نړیوالې ټولنې غړیو د ایران د هستوي فعالیتونو له امله د تهران پر ضد هغه مسوده په لوی اکثریت ومنله چې د ولسمشر محمود احمدي نژاد هیواد د ممکنه بندیزونو لپاره د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ته وړاندې کوي

د اتومي انرژۍ د نړیوالې ټولنې لهـ ۳۵ غړیو څخه ۲۷ د ایران پر ضد رایه ورکړه.

دغه رایه نن (د سلواغې ۱۵ د فبروري ۴) په ویانا کې واچول شوه.

په پاتې غړیو کې پنځو خپلې رایې ونه کارولې او درو غړیو د ایران په ګټه رایه ورکړه.

وړاندې داسې رپوټونه وو چې د اتومي انرژۍ د نړیولې ټولنې په یوې غونډې کې مهم غړي د یوې مسودې پر ټکو سره سلا شوي دي.

د اتومي انرژۍ د نړیوالې ټولنې یوې ویاندې وویل هغه اروپایي هیوادونه چې د دې مسودې ملاتړ کوي غواړي چې تر خپلې وسه د ډیرو غړو ملاتړ ترلاسه کړي ځکه چې دا کار به ایران ته کلک پیغام ورکړي چې خپل مسوولیتونه باید پر ځای کړي.

په جرمني کې لومړۍ وزیري انګلا مارکیل وویل ایران به د اتومي وسلو جوړولو ته پرېښبوول شي.

ایران ټینګار کوي چې د دوی اتومي پروګرام په بشپړه توګه سوله ییز دی

## کشته شدن شش...

این انفجار یک موتر وابسته به نیروهای پولیس را در بازگشت از یک ولسوالی ولایت قندهار هدف قرار داد.

مسئولان امنیتی بقایای گروه طالبان را مسئول این بمبگذاری خوانده اند.

این انفجار بدنبال درگیری های خونین نیروهای امریکایی و افغان با شورشیان مظنون وابسته به گروه طالبان در ولایت همجوار هلمند روی می دهد که طی آن، نزدیک به سی کشته برجا ماند.

در همین حال در اثر یک انفجار دیگر در شمال شهر قندهار نیز که روز شنبه، روی داد، دو غیر نظامی کشته و سه نفر دیگر زخمی شدند.

میرویس افغان، گزارشگر بی بی سی در قندهار می گوید که این ولایت در پی موجی از نا آرامی های اخیر، خونین ترین روزهای خود را ظرف یک سال گذشته می گذراند.

ولایت قندهار در جنوب که زادگاه ملا محمد عمر، رهبر فراری گروه طالبان است، اخیرا حملات و بمبگذاری های مرگباری را شاهد بوده است.

ماه گذشته یک حمله انتحاری در سپین بولدک ولایت قندهار، نزدیک به سی قربانی گرفت.

بر اساس گزارشها، شب شنبه، نیز گروهی از شورشیان مظنون وابسته به گروه طالبان با نیروهای دولتی در ولسوالی میوند ولایت قندهار درگیر شده اند.

گزارشگر بی بی سی در قندهار می گوید که این درگیری تلفاتی نداشته ولی شورشیان یک واسطهٔ نقلیه نیروهای دولتی را با خود برده اند.

نا آرامی های اخیر در حوزه جنوب، برای اولین بار پارلمان کشور را واداشت، مسئله تامین امنیت در کشور را مورد بررسی قرار داده و تصمیم به ایجاد کمیسیون های ویژه ای به منظور رسیدگی به این نا امنی ها اتخاذ کند.

ERADA Daily

اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان
سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)
موبایل : ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

اراده
زیرنظرهیات تحریر انتشار مییابد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : سهراب دیدار

روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: انجینیر محمد جمیل "امیری" و سبحان الله "داودزی"
چاپ:مطبعه مرکزنشراتی افغان
قیمت یک شماره ۳ افغانی

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor:Suhrab Didar ( Mobil phone :070222726)
eradadaily@yahoo.com
eradadaily@hotmail.com